مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

وفا سمندر ۲۰۲۲/۱۰/۰۵

معلم ورځ

بختوره یې کړې پر هغو، چې زما د پوهې-اګاهی کلا ته ختې-اوبه وراچوي.

معلم؛

خو دومره ډېر، چې نه پوهېږم کوم یو یې رایاد کړم:

جنت یې ځای؛ رفیق ماما او عزیزالله ماما، چې سوتې په لاس، د میدان‌درې وکیل‌حفیظالله تر غونډۍ به یې اړولم، چې ژر ځان جمعیت‌لیسې ته ورسوم؛

که استاد ابراهیم (مکتبیانو پرنج باله)، چې په شنو لښتو به یې، په ګوتو تیاکې را نقاشي کولې؛

که پوهاند رحیم الهام، چې سریلا شاګرد ته به یې کړل: «برو، بیرو بچرا!»

که اسمعیل فروغي، چې تلویزیون کې ژورنالېستیکي نثرونو کې د ادبي خوند په لیدلو سره به یې بیا بیا راته کړل: «انورجان تو بګي یک داستان کوتاه بنویس؛ باور دارم مېتوانی!»

که عبیدالله‌محک چې په ۱۳۶۸کال کې، د بنیادمان ناول، په پنسل کښلي نسخې له لوستلو وروسته یې راته کړل: «ځوانه! دا دې اول داستان دی؟»؛

رښتیا، که اسداسمایي، نه وای، ایا زما ادبي-هنري پنځ به دغه رېتم او وزن درلود!؟

او که دا لارو-کوڅو کې، د زرهاوو زرهاوو بې‌سواده، کم‌سواده، رنګېن ولس، ځیرو ته راوتلي زړونه نه وای، له ما به یو تازه غږ، تازه خبره، تازه کار راوتلای وای!!

او ټوله یې داچې: که هغه د نور او غږ استاد چې نه په وینه، نه په خوب کې او نه له مکان او زمان هاغاړه خالص اقلیم کې، وېښته برابر رانه لېرې نه دی، خدای مه‌کړه نه وای ، ایا زما اګاهي به د ادبي رتبو او نښانونو له رواجي شهرت دغه ژوندي سرغړاوي ته

او «ځان» اوسېدلو لیونتوب ته، زړه غټ کړی وای!؟

ځان سپارم د خدای تعالی د سپېڅلي ارادې نوراني تېغ ته: ټول دې د خدایي مېنې خوارکي شم.

دا یو له هغو معلمانو دی، چې زما په عقل کې یې د عشق طلا کرلې: هرات ښار، د ۲۰۲۰کال مارچ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ